# د اکرام الله ګران په غزل کښې رومانویت

# Romanticism in Ikramullah Gran's Ghazal

Farhad ⋆
Dr Sher zaman Seemab ⋆⋆

**Abstract:**

Ikramullah Gran's poetic oeuvre epitomizes the epitome of romance and sophistication, epitomizing the quintessence of contemporary Pashto verse. His compositions are adorned with vivid imagery, evincing a profound romantic ethos and accentuating the intricacies inherent in human sentiment and interpersonal dynamics. Through his literary corpus, Ikramullah Gran articulates sentiments of affection, serenity, and fellowship, extolling the inherent splendor of mankind and the natural milieu. Drawing inspiration from luminaries of English Romanticism such as Wordsworth, he adeptly orchestrates his poetic compositions with artistic finesse and idiosyncratic verbiage, effectively capturing the essence of quotidian existence. His poetry serves as a conduit for novel ideas and individualistic expression, enriching the poetic discourse with innovative perspectives, aesthetic allure, and penetrating insights into the human condition. Core thematic strands encompass a reverential appreciation of nature, a fervent veneration of beauty, the celebration of individuality, emotive resonance, and an abiding love for humanity.

**Keywords**: Naturalism, Individualism, Humanism, Sentimentality, Imagery.

سریزه:

رومانتسیزم هغه ادبي تحریک دے چې د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کښې په اروپا کښې رامنځ ته شو، چې د کلاسیزم د اصولو او قواعدو خلاف و. د یاد تحریک شاعران په شاعرانه بغاوت باندې مئین دي او د خپلو خیالاتو او تصوراتو په اظهار هیڅ قسم پابندي نه مني او د ازاد فکر خاوندان دي، د فطرت په اجزاو کښې د خپل زړه سکون او خوشحالي لټوي، د ټول انسانیت له پاره ارامي او سوکالي غواړي، حسن پرست وي او د کائناتو په هره ذره کښې حسن او جمال ګوري.

⋆ Ph.D. Scholar, Pashto academy, university of Peshawar

⋆⋆ Assistant Professor, Pashto Academy, University of Peshawar.

رومانویت یا رومانتسیزم په خپل وخت کښې ډېر چټک یون وکړ او ټوله اروپا یې ونیوه چې له دې سره یې ختیځو ادبیاتو ته هم مخه وکړه او بیا پښتو ادب ته د اردو ادب له لارې د شلمې پېړۍ په وروستیو کښې د یوه ادبي تحریک په توګه را ننوت او په پښتو ادب کښې هم د پښتنو شاعرانو او لیکوالو لخوا په ښه توګه وپالل شو چې په دې شاعرانو کښې یو هم اکرام الله ګران دے.

ګران صاحب په معاصر پښتو غزل نګارو کښې ځانګړے ځاے او مقام لري، د رنګین تخیل دغه مزاج لرونکي شاعر که څه هم ډېره شاعري نه ده کړې مګر کومه شاعري چې کړې د کیفیت له مخې پوره او پخه شاعري ده، د بېلا بېلو موضوعاتو تر څنګ یې په کلام کښې رمانویت ته هم ځاے ورکړے او د یاد تحریک زیاتې ځانګړنې یې خپلې کړې دي.

په دې مقاله کښې هڅه شوې چې په لنډ او جامع توګه د رومانتسیزم هغه خصوصیات چې د ګران صاحب په غزلو کښې شته او موجود دي د بیتونو په راوړلو سره تشریح او توضیح شوي او په هره برخه کښې یې له یوې زیاتې بېلګې او نمونې راوړل شوې دي.

**د ګران په غزل کښې رومانویت**

اکرام الله ګران د پښتو معاصر ادب او د جدید غزل یو نمائنده شاعر دے، غزل ئې د رومانویت له بېلابېلو خصوصیاتو او ځانګړتیاو څخه مالامال دے چې په ډېر ښکلي او فنکارانه انداز سره ئې دغه خصوصیات پکښې ځاے پر ځاے کړې دي، ګران د مینې او محبت شاعر دے، نوموړي په خپل کلام کښې له خپلو خلکو او ولس څخه د مینې، ورورولۍ او انسان دوستۍ غوښتنه کړې ده.

علي خېل صاحب په خپل کتاب کښې د ګران صاحب د شاعري په اړه داسې وایي:

"ګران صېب د پښتو د جدید غزل یو منلے شوے او پېژندلے شوے نوم دے، په راتلونکي وخت کښې د دوي شعري فن د ځانګړي محاسنو او او منفرد اسلوب په بنیاد په پښتو ادب کښې د یو ځانله مکتب په حېث د رائج کېدو روښانه امکانات لري او دا په دې چې ګران پاچا د غزل نوې تجربه، روماني جنبه، جمالیاتي رنګ، د ټکو انتخاب، د تخیل برجستګي، نازک خیالي، علامات نګاري او د موصوف د غزل هئیت او اهنګ د جدت ښکاره ځانګړتیاګانې دي" [1]

ګران په خپلو غزلو کښې خپلو خلکو او ولس ته د مينې پيغام رسول غواړي، دوي مينې، ورورولۍ او انسان دوستۍ ته را بولي او د انساني حسن تر څنګ ئې قدرتي حسن او ښکلا ګانو ته هم ځاے ورکړے دے.

ډاکټر محمد داود وفا د ګران صاحب د شاعرۍ په اړه په خپل کتاب کښې داسې ليکلي دي:

> "ګران د نازک او مئين تخيل شاعر دے چې د پښتو په ساهډوبي چاپيريال کښې د مينې او عشق سندرې ويلې دي. ګران د زړونو شاعر دے او د خپل تخلص د مانا له مخې په رښتينې توګه د شعر پر مينهوالو د زړه له کومې ګران دے، ده په شعر کښې لوړ تخيل، ژور فکر او ښايسته کلمات او تصويرونه را ټول کړي او دے ئې د پ پاخهٔ شعر خاوند کړے دے." [2]

د اکرام الله ګران په شاعرۍ کښې رومانوي خوا ډېره درنه ده، خپل فکر ئې او خيال ئې په ډېرو رنګينو الفاظو او هنري ترکيبونو کښې وړاندې کړے دے، د انساني حسن تر څنګ ئې د قدرتي او فطرتي حسن ستاينه کړې ده، د ماحول او حالاتو ئې ښکلې او حسينه ترجماني او عکاسي کړې ده، په غزل کښې ئې خپل انفراديت ساتلے او پاللے دے، د داخليت په اظهار کښې له جذباتو او احساساتو کار اخيستے، د نوو خيالاتو اظهار ئې کړے، ښکلې منظرکشي او رومانوي فضا ئې انځور کړې ده او په ټوله کښې د رومانويت زياتو ځانګړنو ته ځاے ورکړے چې په لاندې توګه ئې راوړو:

**فطرت او فطرتي مناظرو سره مينه:**

رومانوي شاعران د فطرت سره مينه لري، دوي په فطرت او فطرتي مظاهرو مئين وي او د فطرتي مظاهرو په بيان او اظهار سره د خپل زړهٔ خوشحالي او ارامي محسوسوي، په دې هکله حنيف خليل صاحب داسې ليکي:

> "رومانوي شاعر به خپله خوشحالي او تسکين د فطرت په حسينو اجزاو کښې لټوي او په خپله شاعرۍ کښې به د دغه فطرت عکاسي کوي." [3]

که د فطرتي مظاهرو د بيان او د دوي سره د مينې په پار د ګران صاحب شاعري وکتل شي نو لېدل کېږي چې نوموړے په دې برخه کښې د انګرېزي شاعر ورډزورته په څېر په فطرت مئين شاعر دے، د ده د غزلو زياتره برخه د فطرتي شيانو بيان او اظهار دے، ده د خپل

زړۀ سکون او خوښي په فطرتي اجزاو کښې لټولې ده، د خپلو خيالاتو د اظهار له پاره ئې د فطرت توکي په ډېر ښکلي رومانوي انداز سره په رنګينو الفاظو او ترکيبونو کښې رانغاړلي دي چې ورسره ورسره ئې يوه ښکلې او رنګينه فضا او منظرکشي هم جوړه کړې ده.

دلته د ګران صاحب هغه غزل را اخلو چې د فطرتي اجزاوو لکه صحرا، بړبوکۍ، ګلونه، چمن، اغزي،ايرې او داسې نورو يادونه ئې کړې ده او د فطرت يوه رنګينه عکاسي ئې په ډېر هنري او رومانوي انداز سره وړاندې کړې ده:

خيـــال کـــه د زلفـــانو د وږمـــو ســـره تـــر غـــاړه وت
لاړلـــو صـــحرا کښـــې بړبوکـــو ســـره تـــر غـــاړه وت
ښښـــې د ګلونـــو پـــه چمـــن کښـــې بـــې لـــه دې نـــه وي
زړه لـــه ډېـــره شـــوقه د اغـــزو ســـره تـــر غـــاړه وت
ســـتا شـــوګيره راغلـــه زمـــا ســـترګو کښـــې مشـــغوله شـــوه
خـوب مـې پـه بـدل کښـې سـتا ليمـو سـره تـر غـاړه وت
سـتا د اننګـو پـه اور کښـې ژونـد بـه ورتـه ښـه ښـکاري نـو
دا زمـــا نظـــر چـــې د لمبـــو ســـره تـــر غـــاړه وت
شـــېخ زړۀ نـــه مجبـــوره دے او خيـــال د قبـــا هـــم ســـاتي
تـــا تـــه پـــه کتـــو توبـــو ســـره تـــر غـــاړه وت
کـــور د محتســـب وه مېخانـــه دلتـــه کښـــې ورانـــه وه
ګـــوره بـــلا نـــوش مـــاتو کاســـو ســـره تـــر عـــاړه وت
ســـتا د مفلســـۍ ســـره اشـــنا څـــومره خـــوښ شـــوی دے
ګرانـــه! دا ګـــوهر خـــو د ايـــرو ســـره تـــر غـــاړه وت [4]

ګران صېب د خپل يوه غزل په يوه بيت کښې د خپلې سيمې يعنې هشنغر د ګودرونو يادونه کوي او وايي چې مونږ د هشنغر د ګودورنو هغه مستې اوبه څښو چې پکښې انجونې او پېغلې په منګوټو او منګيو سره يوه له بله لوبې او جنګونه کوي، چې د فطرت نګاري تر څنګ ئې يوه ښکلې منظرکشي او رومانوي فضا هم انځور کړې ده:

پـــه منګوټـــو چـــې جينکـــۍ پکښـــې جنګونـــه کـــوي
مســـــتې اوبـــــه د هشـــــنغر د ګودرونـــــو ګوټـــــو [5]

مخکې مو ذکر وکړ چې ګران بابا يو فطرت پرست شاعر و چې د خپلې سيمې د قدرتي ښکلاګانو سربېره ئې د فطرت د مظاهرو ډېره ښکلې عکاسي کړې ده، د سيندونو، غرونو، لمر، ستورو، ګلونو، اغزيو، ګودرونو، مرغانو، موسمونو، اشارونواو داسې نورو يادونه ئې ډېره کړې ده، د بېلګې په توګه ئې لاندې بيتونه وګورئ:

چـــې جينکـــو پـــه کښـــې ســـندرې د جانـــان وئيلـــې
نښـــترې پـــرې شـــوې د غـــرۀ چينـــې پـــه نمـــر پرتـــې دي [6]
شـــــبنم چـــــې څـــــومره لـــــرې راغلـــــو ورلـــــه
ګـــــوره چـــــې مـــــلا ورتـــــه د ګـــــل ماتـــــه شـــــوه [7]

**حسن پرستي:**

حسن پرستي د رومانويت يو له مهمو ځانګړنو څخه ده، رومانوي شاعران له هر څه نه زيات حسن پرست دي، دوي د کائناتو په زره زره کښې حسن او جمال لټوي او په دې سره ورته د زړه خوشحالي او تسکين ورپه برخه کېږي.

ډاکټر اقبال نسيم خټک په خپل کتاب کښې د حسن په اړه داسې ليکي:

«هر هغه فعل چې مونږ ئې ښه ګڼو او هر هغه احساس چې مونږ ته تسکين را کوي حسن دے، نو ځکه مونږ وئيلې شو چې ژوند په جمالياتو قائم دے او جماليات د ژوند نه بغير څه معنی نه لري» [8]

که د پورته ځانګړنې له اړخه د ګران صاحب شاعرۍ ته نظر وکړو نو لېدل کېږي چې نوموړے د حسن او عشق شاعر دے ، د کائناتو په زره زره کښې ئې حسن لټولے دے ، ده په لاندې بيت کښې حسن د ځان ايمان او د ژوند لپاره يقين بللے او وائي چې په همدې خاطر مې ئې بندګۍ او اطاعت ته غاړه کېښوده:

حســـــــن مـــــــې ايمـــــــان حســـــــن يقـــــــين د ژونـــــــد
مـــــا ئـــــې بنـــــدګي مـــــا ئـــــې اطاعـــــت وکـــــړو [9]

په بل بیت کښې بیا داسې وایي:

هــــم زرۀ تـــه ســـپارمه هــــم هـــر حســـن تـــه
مـــا لـــه را کـــوي چـــې زنـــدګي شـــعور [10]

ګران صاحب هم د نورو رومانوي شاعرانو په څېر د کائناتو په هره زره کښې حسن لټوي، هغه د کائناتو هر تار ساز او نغمه ګڼي او ورسره خوا کښې د ټولنې حالت انځوروي چې دغو نغمو ته زنځیرونه اچوي او زنداني کوي یې:

والله د کایناتو هـــر یـــو تـــار ســـاز او اواز دے
خـــدایان د ویـــر کـــه اچـــوي نغمـــو تـــه زنځیرونـــه [11]

د ګران صاحب د شاعرۍ بنیاد او اساس حسن پرستي ده، که دۀ دا حسن د خپل محبوب او یا هم د کائناتو په زرو او د طبعیت په مظاهرو کښې لټولے دے خو دغه حسن او جمال ئې د خپل خیال او فکر په رنګینو الفاظو په وسیله داسې انځور کړے چې دغه ښکلا او جمال ئې دوه چنده کړے دے، او ستاینه او توصیف ئې د مبالغې تر کچې رسولے دے، د بېلګې له پاره ئې لاندې بیتونه وګورئ:

شـــرابي زلفـــې نچـــوړ کـــړه چـــې یـــې وڅښـــي
دا زړګـــے مـــې څـــه واعـــظ نـــه دے میخـــور دے [12]
ســـتا د زلفـــو پـــه ســـایه کښـــې یـــې ایمـــان دے
زمـــا زړۀ بـــه یـــاره څـــه رنګـــه کـــافر شـــي [13]

**انسان دوستي:**

انسانیت سره مینه او محبت کول د رومانتسیزم یوه بله مهمه ځانګړنه ده، رومانوي شاعران د انسانیت شاعران وي، دوي د انسان سره بې کچې مینه کوي، د دوي فکر او سوچ د قوم، ژبې، نسل او مذهب له دائرې پورته وي، دوي د ټول بشر له پاره د امن، ازادۍ، سوکالۍ او خوشحالۍ غوښتونکي وي، په دې هکله خواجه محمد سائل په خپل کتاب کې داسې وایي:

«د رومانوي شاعرانو انسان څخه خلوص نه ډکه مينه وه، ورډز ورتھ، کالرج، او شيلي په خپل زړۀ کښې انسان او انسانيت د پاره ډېره زياته مينه جوش او جذبه لرله.» [14]

که مونږ د دې ځانګړنې له مخې د ګران بابا شاعري وګورو نو دا پۀ ډاګه وئيلے شو چې په دې برخه کښې ګران صاحب هم له يادو شاعرانو څخه کم نه دے، ده انسانيت پاللے دے او تل يې خلکو ته د انسانيت، ورورولئ، مينې او امن پيغام رسولے، په دې اړه زرياب يوسفزے په خپله مقاله کښې داسې وايي:

«اکرام الله ګران ته د انسان قدر د انسانيت پر بنياد دے، هغه د فکري ازادئ سره سم د انسان د ازادئ د عظمت سندرې وايي.» [15]

ګران بابا انسانيت ته په ډېر درنښت قائل دے، هغه له هر څه نه انسان انسانيت ته ترجيح ورکوي، هغه په يو بيت کښې د خپل دښمن سره هم مينه ښکندوي او وايي چې هغه خو هم انسان دے او په همدې بنياد ورته خپل دښمن هم ښکلے ښکاري، لکه په دې بيتونو کښې:

ما ته اوس هم خپل دښمن ښکلے ښکاري
مينې مې دا رنګې نظر وويڼځۀ [16]

ګرانه چې زۀ انسانيت خوښوم
زما دښمن خو هم انسان ياديږي [17]

ګران صيب په مينه او محبت تردې حده مئين دے چې په يوه بيت کښې وايي کله چې په کوم زړۀ کښې مينه او محبت ويدۀ شي نو ولو که هغه زما زړۀ هم شي نو زما دښمن دے:

چې محبت پکښې ودۀ شي ياره
زما دښمن دے که مې زړۀ شي ياره [18]

اکرام لله ګران انسان نه د انسانيت تمه لري، هغه وايي چې انسان په انسانيت سره انسان دے او په همدې جوهر سره ښکلے ښکاري، هغه ټول انسانيت يو برابر بولي او وايي چې هر څه دې مړۀ شي خو په دنيا کښې دې؛ مينه، محبت او انسانيت نه مري ، د دې تر څنګ يې د سرمائيداري او پانګوالي نظام هغې برخې ته هم اشاره کړې چې ئې خلک په غربت کښې ساتلي دي، د انسان څخه د ماشين د پرزې په توګه کار اخلي، د دوي په فکر که دا غريب خلک مړۀ کېږي نو مړۀ دې شي خو له سيمې دې غربت او فقر نه ختمېږي نو ګران بابا بيا

وايي چې د سرمائي بتېـ په دې ګرمې دي چې غريب خلک دې مړۀ شي خو د دوي غربت دې نه مري، د ببلګې په توګه يې لاندې غزل وګورئ:

هـــر څـــه دې مـــري انســـانيت دې نـــه مـــري
لـــه دې دنيـــا نـــه محبـــت دې نـــه مـــري
ســـتا پـــه لېمـــو تنـــده د زړۀ مـــاتووم
پکښـــې اوبـــۀ د مـــروت دې نـــه مـــري
د بـــې دليـــل انصـــاف لـــه لاســـه کـــه مـــرم
زمـــا دليـــل زمـــا حجـــت دې نـــه مـــري
د ســـرمائې بتـــېـ پـــه دې ګرمـــه ده
غريـــب دې مـــړ شـــي خـــو غربـــت دې نـــه مـــري
زمـــا د زړه پـــه مشـــعل هـــر څـــوک دې ځـــي
خـــو پـــه ســـيليو د رقابـــت دې نـــه مـــري
ســـتا د جفـــا لمبـــې کـــه مـــا ســـوزوي
دا د وفـــا د مينـــې پـــت دې نـــه مـــري
د ګـــران پـــه قبـــر کـــه وابـــه زرغـــون شـــو
يـــاران ژونـــدي دې وي صـــحبت دې نـــه مـــري [19]

**انفراديت:**

انفراديت د رومانوي شاعرانو يوه بله مهمه ځانګړنه ده، دوي د خپل فکر او خيالاتو د اظهار له پاره له داسې کلمو، ترکيبونو او اصطلاحګانو څخه کار اخيسته چې د دوي ځانګړې محاورې وې او يا هم نوي او ښکلي الفاظ وو چې د نورو څخه به يې ممتاز کول، د انفراديت په اړه فضل مير خټک په خپل کتاب کښې داسې وايي:

« د دې لغوي معنا ده ذاتي خوبۍ، ځانګړے توب، د يو کس هغه ټولې خوبۍ وي چې هغه د نورو کسانو نه بېل او ممتاز کړي خو د ادب په اصطلاح کښې هغه فني او فکري خصوصيات چې د هغې په وجه يو اديب يا شاعر د نورو اديبانو او شاعرانو نه بېل جوت لېده شي.» [20]

ګران بابا چې د پښتو د معاصر جدید غزل یو نمائنده شاعر بلل کېږي نو که د ده شاعرۍ د انفرادیت له زاوئې وکتل شي نو په ځغرده ویلے شو چې نوموړي په دې برخه کښې پوره طبع ازمائي کړې او په پوره توګه پکښې بریالے هم دے، درمان علي خېل دګران صاحب د انفرادیت په هکله داسې لیکي:

"ښاغلے اکرام الله ګران صېب چې څه رنګ انفرادي رنګ لرونکی غزل لیکي هم دغه شان ښه نظم هم د هغوی د فني کمال ځانګړتیا ښکاره کوي" [21]

ګران صاحب د خپل فکر او خیال د اظهار له پاره له داسې هنري ترکیبونو او اصطلاحګانو څخه کار اخیستے چې له ده څخه نه مخکې کوم شاعر کارولي او نه هم وروسته کوم چا دا جرات کړے وي مثلاً: دا په یو غزل کې د (زړۀ ولي) اصطلاح کاروي او خپل ارمان ته وايي چې ستا جنازه د زړۀ په ولو باندې پورته شوه چې مونږ او تاسې د زړۀ سر، د زړۀ په سترګو، د زړۀله کومې، د زړۀ له تله اصطلاحګانې کاروو خو د زړۀ ولي اصطلاح به لومړے ځل وي چې زۀ ور سره مخ شوے یم نو دا د ګران صاحب انفرادیت دے چې داسې یوه اصطلاح په ډېر هنر سره کاروي، بیت یې:

ستا جنازه د زړۀ په ولو باندې پورته شوله
زما ارمانه د کفن خوشبو دې دلته راځي [22]

د همدې غزل په یوه بل بیت کښې خپل محبوب ته وايي چې ته خو له غرونو پناه ئې خو ما ستا د نوم په رخسارونو باندې خپلې شونډې ایښې دي، د نوم رخسار د ګران صاحب یو ځانګړے هنري ترکیب دے چې په ډېر ښکلي انداز سره یې راوړے دے:

شونډې مې ایښې ستا د نوم په رخسارونو باندې
پناه له غرونو د دیدن خوشبو دې دلته راځي [23]

د لته د ګران صاحب یو داسې غزل راوړو چې د انفرادیت سربېره د رومانویت نورې ځانګړنې لکه فطرت پرستي، انسان دوستي منظر کشي او داسې نورې لري:

په پلوشو مې جوړ د نمر ووینځه
مخ مې په دوړو ستا د در ووینځه
ستا بې رخې په تا الزام لګوي

ډېـــر مـــې دې خلقـــو تـــه ســـتا ســـر ووینځـــه
مـــا تـــه اوس خپـــل دښـــمن هـــم ښـــکلے ښـــکاري
مینـــې مـــې دا رنګـــې نظـــر ووینځـــه
د حقیقـــت پـــه غوټـــو غوټـــو شـــونډو
د وخـــت پـــه مـــالګو مـــې پرهـــر ووینځـــه
پـــه لوپټـــه د مـــخ خـــولې وچـــوي
د ګلـــو پرخـــې جـــوړ ســـحر ووینځـــه
د درد د څړیکـــو د زم زم پـــه اوبـــو
ګـــران د قاتـــل د لاس خنجـــر ووینځـــه [24]

**جذباتیت:**

رومانوي شاعري د عقل او منطق پر ځاے په جذباتو ولاړه وي، دوي د ذهن پر ځاے زړهٔ ته، د فکر پر ځاے جذبې ته او د دلیل پر ځاے تخیل ته ځاے ورکوي، دوي د خپلو خیالاتو او جذباتو بیان او اظهار په ازادانه ډول سره کوي او د دوي په فکر دا د انسان انساني او ذاتي حق دے، د رومانویت پلویان د کلاسیکیت خلاف د عقل پر ځاے د زړهٔ خبره اوري او زړهٔ تل د جذباتو مني.

د ګران صاحب شاعرۍ ته که د جذباتو له اړخه وګورو نو وایو چې د جذباتیت توکے پکښې ډېر او غالب دے، د خپلو خیالاتو د اظهار له پاره ئې له جذباتو نه کار اخیستے او د عقل پر ځاے ئې جذبې او تخیل ته اهمیت ورکړے دے، نوموړے په یو غزل کښې له جذباتو تر دې کچې کار اخلي چې ځان د مینې او محبت په اور کښې ستي او لولپه غواړي او د محبت په نامه تهمت او بدنامي د ځان له پاره ویاړ او سرلوړي ګڼي، د زورورو پر وړاندې چې خاوره او ملک کښې ئې په خپله قبضه کښې نیولے سرکشي او مستي غواړي او له دې وړې بلا څخه د ازادۍ او خلاصون غوښتنه کوي:

دا ژونـــد د محبـــت پـــه اور ســـتي غـــواړو جانانـــه
ځانونـــه پـــه دې اور کښـــې تهمتـــي غـــواړو جانانـــه
غنچـــې غنچـــې د ســـرو ګلونـــو مـــونږه غوښـــتې نـــه دي
ســـتا ســـپوریو اننګیـــو لـــه پســـرلي غـــواړو جانانـــه

دې ورېږ بـــــلا وخـــــوږې جـــــذبې د محبـــــت
دې دور نـــــه ازاده زنـــــدګي غـــــواړو جانانـــــه
دا خـــاوره همېشـــه چـــې زوروو پائېمـــال کـــړه
دې خـــاوره کښـــې مســـتي او سرکشـــي غـــواړو جانانـــه
زمـــونږ د خولـــو عطـــر وي زمـــونږه پـــه شيشـــو کښـــې
مـــونږ خپلـــو خوشـــبويو کښـــې رنګينـــي غـــواړو جانانـــه
دا ګـــران دې ولـــې ګېـــر د مصـــلحت پـــه پېکـــړو کښـــې
يـــو والـــے پـــه ژونـــدون د خپـــل پـــردي غـــواړو جانانـــه [25]

ګران صاحب د خپلو خيالاتو، جذباتو او احساساتو په اظهار کښې برياليے ښکاري، ده د خپلو جذباتو د بيان له پاره داسې ښکلي او رنګين الفاظ او کلمات کارولي چې له يوې خوا يې خپل فن لوړو پوړيو ته رسولے او له بلې خوا د لوستونکو جذبات او احساسات هم په ولولو راولي.

د رومانويت له پورته يادو ځانګړنو سربېره نورې ځانګړنې او خصوصيات هم د اکرام الله ګران په شاعرۍ کښې جوت او ځرګند دي لکه د روزمره ژوند او حالاتو ترجماني او انځور، د کلېوالي ژوند انځور، د مظلومو خلکو سره همدردي، شاعرانه بغاوت، د ماضي سره مينه او دلچسپي، منظرکشي او داسې نور.

ګران صاحب په دې لاندې بيتونو کښې د خپلو خلکو د زندګۍ او حالاتو ترجماني او عکاسي په دې توګه کوي:

تضـــاد د هـــر ســـړي د قـــول دے ســـاه مـــې بنـــده شـــوله
د تېزنـــدۍ غونـــدې مـــاحول دے ســـاه مـــې بنـــده شـــوله
خوشـــبو مـــې بائلـــه د باســـي ګـــل پـــه بويونـــو پســـې
ژونـــد فريبونـــو کښـــې را ټـــول دے ســـاه مـــې بنـــده شـــوله
ســـوداګر خلـــق د احســـاس نزاکـــت څـــه پېژنـــي
معيـــاري وزن دے او تـــول دے ســـاه مـــې بنـــده شـــوله [26]

يا دا بيت:

دلتـــــه د کـــــاڼي غـــــږ تـــــه غـــــوږ شـــــي خلـــــق
خـــــو اورېـــــدے د زړهٔ خبـــــره نـــــه شـــــي [27]

ګران صیب په یوه بیت کښې د انفرادیت تر څنګ یوه ښکلې منظرکشي په داسې الفاظو سره وړاندې کوي:

پـــې مخـــې ارزوګـــانې د نـــادارو پـــه ســـینو کښـــې
والله لکـــه وابنـــهٔ چـــې پـــهٔ قبرونـــو زرغـــونېږي [28]

**پایله**

اکرام الله ګران د پښتو معاصر غزل یوه وتلې څهره ده، غزل ئې د تغزل په رنګینو مالامال دے، په شعرونو کښې د رومانتسیزم ځانګړنې او خصوصیات ډېر لېدل کېږي، د انسان او انسانیت سره مینه لري، په انسان دوستۍ او امن مئین شخص دے، حسن پرست دے، د فطرت او طبعیت له مظاهرو سره مینه لري، ځانګړي ترکیبونه او اصطلاحات کاروي چې په دې سره ئې خپل انفرادیت ساتلے دے، د فکر او خیالاتو په اظهار کښې له جذباتو کار اخلي، د خپلې ټولنې او خلکو د روزمره ژوند او حالاتو ښه ترجماني او عکاسي کوي، د نوي خیال تر څنګ یې نوے طرز او انداز هم خپل کړے، ښکلې او رنګینې منظرکشۍ یې وړاندې کړي او په ټوله کښې ګران بابا د رومانویت په تول برابره او کره شاعري کړې ده.

# حوالې

[1]علي خېل، درمان، روښانه ستوري، رڼا پښتو ادبي ټولنه، ۲۰۱۳م، ۱۹۳ مخ.
[2]وفا ، محمد داود ، د پښتو معاصر ادب تاريخ او ښتون پړاو ، مومند خپرندويه ټولنه، جلال اباد ، ۲۰۲۲م، ۲۳۸ مخ.
[3]خليل، حنيف، علم و فن، يونيورسټي پبلشرز، پېښور، ۲۰۲۲م، ۲۲۳ مخ.
[4]ګران، اکرام الله، زما غزل، ملت ايجوکېشنل پرنټرز، لاهور، ۲۰۰۲م، ۶۶ مخ.
[5]همدغه اثر، ۹۰ مخ.
[6]ګران، اکرام الله ګران، ژوند د خيال په ائينه کښې، عامر پرنټ اينډ پبلشرز، پېښور، ۲۰۱۵ م، ۳۵ مخ.
[7]همدغه اثر: ۲۱ مخ.
[8]خټک، ډاکټر اقبال نسيم، خوشحال او جماليات، جدون پريس، پېښور، ۱۹۸۷م، ۵۱ مخ.
[9]ګران، اکرام الله، زما غزل، ملت ايجوکېشنل پرنټرز، لاهور، ۲۰۰۲م، ۲۰۷ مخ.
[10]همدغه اثر، ۹۴ مخ.
[11]همدغه اثر، ۱۳۳ مخ.
[12]ګران، اکرام الله، ژوند د خيال په ائينه کښې، عامر پرنټ اينډ پبلشرز، پېښور، ۲۰۱۵ م، ۴۱ مخ.
[13]همدغه اثر، ۱۹۰مخ.
[14]سائل، خواجه محمد، رومانويت او عبدالحميد بابا، اعراف پرنټرز، پېښور، دويم چاپ، ۲۰۱۹م، ۷۴ مخ.
[15]زرياب يوسفزی، د اکرام الله ګران په شاعرۍ کښې د انساني رويو څېړنه، مشموله:شپږمياشتنې مجله پښتو، جلد ۴۶،جنوري – جون، ۲۰۱۸م، ۴۶مخ.
[16]ګران، اکرام الله، زما غزل، ملت ايجوکېشنل پرنټرز، لاهور، ۲۰۰۲م، ۱۲۸مخ.
[17]همدغه اثر، ۲۶مخ.
[18]همدغه اثر، ۱۱۱مخ.
[19]همدغه اثر، ۲۴ مخ.
[20]خټک، فضل مير، فضليات، دريم اشاعت، اعراف پرنټرز، پېښور، ۲۰۲۱م، ۸۲ مخ.
[21]علي خېل، درمان، روښانه ستوري، رڼا پښتو ادبي ټولنه، ۲۰۱۳م، ۱۹۲ مخ.
[22]ګران، اکرام الله، زما غزل، ملت ايجوکېشنل پرنټرز، لاهور، ۲۰۰۲م، ۱۴۰مخ.

[23] همداغه اثر، ۱۴۰ مخ.
[24] همدغه اثر، ۱۲۸ مخ.
[25] همدغه اثر، ۲۰۲مخ.
[26] همدغه اثر، ۱۷۲مخ.
[27] همدغه اثر، ۱۷۶ مخ.
[28] همدغه اثر، ۱۶۴ مخ.

**References:**

1. Ali Khel, Durman, Rokhan stori, Ranna pukhto adabi tolana, 2013, 193 p.
2. Wafa, Mohammad Daud, Da pukhto massir adab tarikh, Momand khaparondoya tolana, Jalalabad, 2022, 238 p.
3. Khalil, Hanif, alam wo fan, University Publishers, Peshawar, 2022, 223 p.
4. Gran, Ikramullah, zama Ghazal, Millat Educational Printers, Lahore, 2002, 66 p.
5- Hum dagha asar, 90 p.
6 Gran, Ikramullah Gran, Zowand da khyal pa aayna ke, Amer Print and Publishers, Peshawar, 2015, 35p.
7- Hum dagha asar, page 21.
8- Khattak, Dr. Iqbal Nasim, Khushal and Jamalyat, Jadoon Press, Peshawar, 1987, 51p.
9- Gran, Ikramullah, Zama Ghazal, Millat Educational Printers, Lahore, 2002, p. 207.
10- Hum dagha asar, page 94.
11- Hum dagha asar, 133 p.
12- Gran, Ikramullah, Zowand da khyal pa aayna ke, Amer Print and Publishers, Peshawar, 2015, 14 p.
13. Hum dagha asar, 190 p.
14. Sayle, Khawaja Muhammad, Romaniyat aw Abdul Hameed Baba, Araaf Printers, Peshawar, dwayam chap, 2019, 74 p.
15. Zaryab Yousafzai, Da Ikramullah Gran pa Insani rowiw serrana, pukhto mujala, 46 juld, January- June, 2018, 46 p.
16. Gran, Ikramullah, zama Ghazal, Millat Educational Printers, Lahore, 2002, 128 p.
17. Hum dagha asar, 26 p.
18. Hum dagha asar, 111 p.
19. Hum dagha asar, 24 p.
20. Khattak, Fazl Mir, Fazliat, drem ishaat, Araaf Printers, Peshawar, 2021, 82 p.
21. Ali Khel, Darman Rokhan stori, Ranna pukhto adabi tolana, 2013, 192 p.

22. Gran, Ikramullah, zama Ghazal, Millat Educational Printers, Lahore, 2002, p. 140.
23. Hum dagha asar, 140 p.
24. Hum dagha asar, 128 p.
25. Hum dagha asar, 202 p.
26. Hum dagha asar, 172 p.
27. Hum dagha asar, 176 p.
28. Hum dagha asar,164 p.